# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱۹۲ گڼه / چهارشنبه ۱۰ ذوالقعدةالحرام ۱٤٤٤ هـ.ق / ۰۹ جوزا ۱٤۰۲ هـ.ش / ۳۱ می ۲۰۲۳ میلادي


**د ریاست الوزراء کفیل:**

## د اقلیمي بدلون پر وړاندې مبارزې ته باید جدي پاملرنه وشي

مولوي عبدالکبیر د چاپېریال ساتنې د ادارې لــه عمومي رییس ســره په کتنه کې وویل: د چاپېریال د ککړتیا د مخنیوي او له اقلیمي بدلون سره د مبارزې لپاره پلان جوړول یوه مهمه موضــوع ده او باید په دې برخه کې جدي پاملرنه وشي.

د ریاســـت الـــوزراء مطبوعاتي تیره ورځ د یــوې خبرپاڼې پــه خپرولو ســره وویل چې، د ریاست الوزراء سیاســـي مرســـتیال او کفیل محترم مولوي عبدالکبیر د چاپېریال ساتنې ملي اداري له عمومي رئیس سره وکتل.د چاپېریال ساتنې ملي ادارې رئیس حافظ عزیز الرحمن د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت سره د چاپېریال ســـاتنې پــه برخه کې د کاري زمینو په رامنځته کولو خبرې وکړې.نوموړي زیاته کــړه، دوی د نړیوالو بنسټونو مرستې ته اړتیا لري، څو وکولای شي د چاپېریال ساتنې په برخه کــې پلان شــوې پروژې پلي او د اقلیمـــي بدلونونو له امله د چاپېریال د تخریب ... ۷مخ

## کاهش تعرفه گمرکی تراکتورهای وارداتی



وزارت مالیه تعرفه گمرکی تراکتورهای وارداتی از پاکستان را کاهش داد.

وزارت مالیــه کشــور بــا انتشــار اعلامیــه‌ای گفته اســت کــه تعرفه گمرکی واردات تراکتورهای پاکستانی را به منظور حمایت و توســعه بیشتر بخش زراعت کاهش داده است.

وزارت مالیه روز دوشنبه، ص۷

## د پاکستان له زندانونو سلګونه نور افغان بندیان خوشي کېږي




د پاکســـتان په کراچۍ ښــار کې د افغانســـتان کونسلګرۍ وایي، تــر راتلونکو دوو میاشـــتو به له ۲۹۰ ډېــر افغان کــډوال چې د پاکستان په زندانونو کې پراته دي، خوشې شي. د یادې کونسلګرۍ مسوولین زیاتوي، په پاکستان کې د ۲۶۰۰ افغــان بندیانــو له ډلې نږدې ۲۳۵۰ بندیان چې ښــځې او ماشــومان هم په‌کې شــامل دي، خــوشي شــوي او هېــواد ته ســتانه شــوي دي. بل‌خوا، د کډوالــو او راســتنېدونکو چارو وزارت ویانــد وایي، پــه تېره یوه میاشــت کې له ایران او پاکستانه څه بانــدې ۲۸ زره افغانان هېواد ته راســتانه شوي دي. د نوموړي په وینا، د افغان بندیانو پر ستونزو د غور لپــاره د لویې څارنوالۍ په مشرۍ یوه کمېټه هم جوړه شوې ده. د کډوالــو او راســتنېدونکو چارو وزارت د شمېرو له مخې، اوس‌مهال له شپږو تر اتو مېلیونو افغانان په نورو هېوادونو په تېره بیا ایران او پاکستان کې ژوند کوي.

## علاقمندی یک شرکت روسی به تولید نفت از زباله‌ها در شهر کابل



نورالدین عزیزی سرپرست وزارت صنعت و تجارت با نماینده‌ی یک شرکت روسی دیدار کرد.

دفتــر مطبوعاتــی وزارت صنعت و تجــارت روز گذشــته با نشــر خبرنامه‌یی گفت که، در این دیدار محمد نسیم آغا نماینده‌ی ص۷

**باشندگان نیمروز:**

## «ما از تشنگی جان می دهیم، ایران از ما آب می‌خواهد»



پژواک: شــماری باشــنده‌گان نیمروز از خشکسالی و کمبود جــدی آب شــکایت نمــوده می‌گویند، ایــران درحالی دعوۀ حق‌آبه را دارد که برخی ساکنان این ولایت به دلیل خشکسالی مجبور به ترک مناطق زیســت شان می‌شوند.

این در حالی است که مقام‌های ایران بــا لحن تنــد از امارت اسلامی خواســتار «حق‌آبه» از دریای هلمند شده‌اند.

امارت اســلامی اجرای معاهدۀ ســال ۱۳۵۱ هجری شمســی در خصــوص آب هلمند بین دو کشــور را راه‌حل... ص۳

**مولوي مطیع الحق خالص:**

## د لا ډېرو مرستو راجلبولو په هڅه کې یو

په روزګان کې د افغاني سرې میاشتې د استازو پرانیســت غونډه د افغاني سرې میاشــتې د سرپرست عمومي رئیس مولوي مطیع الحق خالص په ګډون ترسره شوه.

دې غونډې ته د وینا پر مهال مولوي مطیع الحق خالــص وویل، چې په تولنــه کې د اســتازو د رامنځته کولو موخه یې د اســتازو له لورې موږ ته سخت ترین ارمن راپېژندلي دي.

خالص زیاته کړه، : «د هېواد میلیونونو وګړو ته د مرستې لاس ورکول د چا له وســه نده پوره، خو موږ هڅه کوو تر خپلې وسې سخت ترینو اړمنو ته مرستې ورسوو.»

نوموړي وویل، چې هڅه... ۷مخ

## آغاز پروژه سرک اتصالی شمال- غرب کابل



شــهرداری کابــل اعلام کــرد که کار پاکســازی، برداشــتن موانع و تخریب خانه‌های تحت استملاک مسیر ســاخت سرک جدید اتصالی شمال-غرب کابل آغاز شده‌است.

این ســرک اتصالی از سرک شاهراه کابل پــروان (شــهرک ذاکرین) تا سرک قرغه در مربوطات... ص۷


سرمقاله


## راځئ خپل نظام غښتلی او اقتصاد پیاوړی کړو

افغانان باید له تېرو ترخو تجربو درس واخلي اوخپل نظام غښــتلی کړي دخپل گران اومحبوب هېواد افغانستان څخه ددفاع او پرمختگ لپــاره په خپلوکې سره یوموټي شي ترڅو پــه دې توگه دخپلو داخلي او بهرنیو دښــمنانو دلاســوهنو او مداخلو مخه ونیسو پردي خو ډېر راغلل او لاړل پرځای ددې چې زموږ وطن جوړ کړي برعکس ددوی نیابتي او استخباراتي جنگونو زموږ ښکلی هېواد لولپه او زموږ مؤمن اوغیــرتي ملت یې دفقر ترکچې را ټيټ او ذلیل کړ چې عمده علتونه یې خپلمنځي بې باوري اوپه نورو اتکا وه راځئ نور دپردیو لاســونه له خپل هېواده لنډاو دسیســې یې ورشــنډې کړو خــو دا هله امکان لري چې موږ دخپل حکومت ننگــه وکړو او حکومت خپل ملت ته خپله غیږ پرانیزي دهغوی غوښتنې واوري چې په دې سره دحکومت او ولــس ترمنځ واټن له منځه ځــي او یووالی رامنځته کېږي دترکیې انتخاباتوتــه په کتو او په هغه کې د رجب طیب اردوغان دېرله پســې بریا راز په یووالي کې و چې نړیوالو ته یې ثابته کړه چې دترکیې ولس له خپل نظام اوحکومت سره څومره مینه لري او رجب طیب اردوغان هم دترکیې او ترکي ملت ... ۷مخ

**کروندګر:**


## حکومت دې راته سړې خونې جوړې کړي



په کابــل کې یــو شــمېر کروندګر د معیــاري ســړو خونو له کمښــته شــکایت کوي. دغه کروندګر وایي، چې حاصلات یې د پخېدو په موسم کې په تېټــه بیه پلورل کېږي. دوی له حکومت څخه غواړي، چې د کرنیزو محصولاتو د ساتنې لپاره... ۷مخ

**د ریاست الوزراء د دفتر لوی رئیس:**

## سوداګر دې د افغانستان لاس موټر وارد کړي




د افغانســتان اســلامي امــارت د ریاســت الوزراء د دفتــر لوی رئیس ډاکتر ملا عبدالواســع پرون د کندهار ســپین بولدک د موټــرو او پرزه جاتو د ســوداګرو ټولنې له اســتازو سره په کتنه کې وویل، چې ســوداګرو د بدل لاس موټــرو پرځــای د افغانســتان لاس موټر وارد کړي. ۷مخ


امارت اسلامی قبای ژندۀ نظام گذشته را وصله می‌کند صفحه ۲

د کابل او تهران ترمنځ مسایل په هغه حد کې نه دي چې کړکېچ رامنځته کړي ۳مخ

پښتو دې د نصاب، علم، ټکنالوژۍ او رسمیاتو ژبه شي ٤ مخ


## رقابت صدها زن و مرد بر سر احراز بست‌های معلمی در بلخ



ریاست معارف ولایت بلخ، از صدها متقاضــی زن و مرد برای اســتخدام در ۵۶۱ بســت خالــی معلمــی در مدرسه‌های دینی این ولایت ص۷


## د اطلاعاتو او رسنیو مرکز نوی رئیس معرفي شو

قاري محمــد یوســف احمدي په رســمي توګه د حکومت د اطلاعاتو او رســنیو مرکز د رئیس په توګه دنده پیل کړه.

نومــوړي، چــې لــه دې وړاندې د اســلامي امارت د مرســتیال ویاند پــه توګه دنده ترســره کولــه، پرون د اطلاعاتــو او کلتــور وزارت د ګرځندوی، مالي او اداري مرستیال مولوي سعدالدین سعید، د ریاست الوزراء د بشــري ســرچینو د رئیس مولــوي محمــد داود محمدي، د ریاست الوزراء د عامه او ستراتېژیکو اړیکو مرســتیال مولــوي احمد الله تقي او یو شــمېر نورو مســوولینو له لوري د یوې غونډې په ترڅ ۷مخ

**پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت:**

## ۲۴ ساعتونو کې د طبیعي پېښو له امله ۴ تنو ته مرګ ژوبله اوښتي



پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت پــه تېرو ۲۴ ســاعتونو کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د طبیعي پېښو له امله خلکو ته د ځاني او مالي زیانونو د اوښتو خبر ورکړی دی.

د دغه وزارت ویاند شفیع الله رحیمي وایي، چې تېرو ۲۴ ساعتونو ۷مخ

## وروستیو سېلابونو کروندګرو ته درانه زیانونه اړولي



د کرنــې او مالدارۍ خونه وایي، چــې پــه روان لمریــز کال کې کروندګــرو تــه جــدي زیانونه اوښــتي دي. د دې خونــې مسوولین زیاتوي، چې په شمال کې د ملخانو یرغــل او په ځینو ســیمو کې ســېلابونو د هېواد د کرنې برخه زیانمنه کړې ده. پېښو ته د رسېدو په چارو ۷مخ

## هلمند کې د ۱۶ پروژو چارې پیل شوې

د هلمند د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاست مســوولین وایي، چې د دغه ولایت په ګرشــک ولســوالۍ کې د افغانســتان لپاره د ټولنیز معیشت پروګــرام له لارې د څــه باندې ۳۲ میلیونــو افغانیــو په لګښــت د ۱۶ پروژو چارې پیل شــوې.د مسؤلینو پــه وینا، چې دغه پــروژې د نړیوال بانک په مالــي ملاتړ د ۳۲ میلیونو، ۵۴۹ زره او ۶۴۵ افغانیو په لګښت پلي کېږي، چې په کې د اوبو لګولو کانالونو د پاکولو چارې شاملې دي. د مسوولینو په خبره، په دې پروژو کې ۱۹۲۷ ماهرو او غیرو ماهرو کسانو ته د کار زمینه هم برابره شــوې ده. هېره دې نه وي، چې له دې وړاندې هم په بېلابېلو ولایتونو کې افغانستان لپاره د ټولنیز معیشــت پروګرام له لارې د لسګونه پروژو چارې پیل شوې وې.

## کندهار کې ۱۵۰۰ جریبه ځمکه له غصبه وژغورل شوه



د کندهار د کــرنې اوبو لګولو او مالدارۍ ریاســت مسوولین وایي، چــې د دغــه ولایت په دامان ولســوالۍ کــې ۱۵۰۰ جریبه ځمکــه د غصب څخه خلاصه شوې ده.

د دغــه ولایــت د کرنیــزو محصولاتو آمر مولوي شــمس الرحمن موســی وویل، چې د ځمکو د غصب... ۷مخ

## آغاز کار بازسازی ۵۸ مرکز صحی در ولایت دایکندی

مسوولان «موسسه بهزیستی تحرک» اعلام کرد که کار بازسازی ۵۸ مرکز صحی فامیلی را به ارزش ۲۰ میلیون افغانی در ولایت دایکندی آغاز کرده‌اند. مسوولان «موسسه بهزیستی تحرک» می‌گویند که کار بازسازی این مراکز روز دوشنبه، ۸ جوزا، با حضورداشت مقام‌های محلی امارت اسلامی در دایکندی آغاز شد. براساس سخنان مسوولان این موسسه، این مراکز صحی در نُه ولسوالی ولایت دایکندی موقعیت دارد که به گونه معیاری بازسازی می‌شوند. به گفته آنان، هزینه‌ی این پروژه ۲۰ میلیون افغانی است که از سوی صندوق جمعیت سازمان ملل متحد تمویل می‌شود. گفتنی است که این موسسه چندی پیش کار ساخت و بازسازی ۲۴ مرکز صحی را در ولایت بامیان نیز آغاز کرده بود.

## تطبیق ده‌ها پروژه از سوی یک نهاد مددرسان

یک نهاد مددرسان، در چهار ولایت افغانستان ‹کابل، هرات، بلخ وقندهار› ده‌ها پروژهٔ اقتصادی را تطبیق می‌نماید. نهاد ‹مرسی کورپس› روند تطبیق این پروژه‌ها را در ولایت های کابل، هرات، بلخ و قندهار آغاز کرده است. مسوول نهاد مرسی کورپس در سفر به هرات گفت: هدف از تطبیق این پروژه‌ها، رسیدگی به نیازهای بشردوستانه‌ی چند بخش اضطراری، جمعیت‌های آسیب پذیر از بحران است. تامین آب، صحت و حفظ الصحه، کمک‌های نقدی، ایجاد سرپناه و اسکان و بهبود و بازیابی اقتصادی خانواده‌ها و اقتصادهای کوچک پروژه هایی است که قرار است در این چهار ولایت تطبیق شود. مسوول نهاد مرسی کورپس می‌گوید که قرار است پنج میلیون و هفت صد هزار دالر امریکایی، صرف این برنامه شود.

مولوی عبدالسلام هجرت رئیس احیاء و انکشاف دهات هرات، از این برنامه استقبال کرد و گفت که در همکاری با نهاد مرسی کورپس، به تطبیق این پروژه‌ها، زمینه‌سازی خواهند کرد.

## کشف انبار مهمات در میدان وردک

یک انبار جنگ افزار در ولسوالی دایمیرداد میدان وردک کشف شد.

این انبار، در یک اطلاعات کشفی نظامیان، در منزل یک تن از ساکنین ولسوالی مذکور کشف شد.

مسوولان پولیس میدان وردک می‌گویند که از این انبار، سه کلاشینکوف، یک ده تکه، صدها مرمی کلاشینکوف بدست آمده است.

این در حالی است که پولیس میدان وردک، در روزهای پسین، صدها جنگ افزار را جمع آوری و به برنامه‌ی جمع آوری سلاح تسلیم کرده اند.

## فاریاب کې ترافیکي پېښې ۷ تنو ته مرګ ژوبله اړولې



د فاریاب په پښتونکوټ ولسوالۍ کې د یو فلانکوچ موټر د چپه کېدو له امله د یوې مېرمنې په ګډون دوه تنه مړه شوي او پنځه نور ټپیان دي. د فاریاب ولایت د ترافیکو ریاست د حوادثو مدیر احمد فهیم کوهي وايي، چې په ټپیانو کې دوې مېرمنې هم شاملې دي. دا په داسې حال کې ده چې له دې یوه ورځ وړاندې هم د یاد ولایت په قرغان ولسوالۍ کې د ترافیکي پېښې له امله یو تن وژل شوی و. په هېواد کې ډېرې ترافیکي پېښې د خرابو لارو او موټر چلوونکو د بې غورۍ له امله رامنځته کېږي.

## کابل کې د الکولي مشروباتو کارخونه له منځه یووړل شوه

امنیتي سرچینو په پلازمېنه کابل کې د الکولي مشروباتو د یوې کارخونې د له منځه وړلو او یوه اندازه نشه یي توکو د له منځه وړلو خبر ورکړی دی.

د کابل امنیې قومندانۍ د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د دغه قومندانۍ د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې مدیریت ځواکونو د یو لړ عملیاتو په پایله کې د شرابو یوه کارخونه او ګڼ شمېر نشه یي توکي له منځه وړي دي.

د خبرپاڼې د مالوماتو له مخې په دغه توکو کې ۱۹ کیلو شیشه او ۴۰ بوتله شراب شامل دي. سرچینې زیاته کړې، چې د یادو نشه یي توکو په تور لس تنه هم نیول شوي دي. د کابل امنیې قومندانۍ همدارنګه ویلي، چې د نیول شویو کسانو دوسیې به تر څېړنو وروسته اړوندو ارګانونو ته وسپارل شي.



# امارت اسلامی قبای ژندهٔ نظام گذشته را وصله می کند



۲۸ می، روز جهانی مبارزه با گرسنگی است' روز که میتواند تداعی کننده رنج میلیون ها انسان این کره خاکی باشد که گرسنه میخوابند و روز ها در تکاپو دریافت لقمه نانی اند که حداقل زنده بمانند.

سازمان ملل متحد ۲۸ می را روز جهانی مبارزه با گرسنگی نامیده است' انتخاب ۲۸ می به عنوان روز جهانی مبارزه با گرسنگی تنها یک نام در تقویم بین المللی نیست' تداعی کننده رنج میلیون ها انسان در جهان است که شب ها گرسنه میخوابند و روز ها هم در تکاپو دریافت لقمانی اند که حداقل زنده بمانند در حالی که گرسنگی تعریف اول فقر است.

حرف از گرسنگی در حالی به میان میآید که از این پدیده حرف های زیادی در افغانستان زده میشود و اوچا «هماهنگ کننده کمک های سازمان ملل» مدعی است که بیش از ۲۸ میلیون انسان در این کشور با گرسنگی و فقر مواجه اند و رنج افغانان بلند تراز رنج مردمان کشورهای دیگر است .

افغانستان دچار مشکلات اقتصادی شدید است' مشکلات که دارد به بحران فقر تبدیل میشود و هزاران انسان درمانده در این کشور هر روز وهر شب گرسنگی را تجربه میکنند.

در این جای شک نیست که فقر وگرسنگی در افغانستان واقعیت های نمایان در جامعه ما است مگر این دوپدیده آنی وتصادفی وارد زندگی مردم و جامعه ما نشده است' عواملی وجود دارد که زندگی مردم ما را از این دو پدیده متاثر کرده است' این پدیده های ناهنجار امروز چالش اصلی در برابر امارت اسلامی است و حتی گفته میتوانیم به عنوان یک حربه در برابر امارت اسلامی بکار میروند.

فقر وگرسنگی در افغانستان یک شبه ظاهر نشدند بل عامل وعواملی داشتند که تدریجی رشد کردند وحالا پا بر حلقوم مردم ما گذاشته اند.

فقر و گرسنگی قبل از تسلط دو باره امارت اسلامی' پدیده رنج دهنده در افغانستان بودند' نظام گذشته که بیشتر تصویری زشتی از فساد ونا برابری های دیگری اجتماعی را با خود داشت چنان وضعیت را خلق کرده بود که اداره ومدیریت آن از امکان بدور بود' همکاری امریکا با دلالان قدرت و نظارت ناکافی بر چشمه های عایداتی دولت آن وقت به رشد فساد در افغانستان انجامید وچنان تبعاتی داشت که نمیتوان آن در ظرف چند روز' چند ماه وچند سال حل کرد.

نتیجه سال‌های تجاوز، جنگ و منازعه زیر بنا ها را در کشور نابود کرد' نیروی بشری را کاهش داد' فرار سرمایه ها را بدنبال داشت' فساد را گسترش داد و فقر و گرسنگی را به میان آورد.

این ها نمایانگر آن است که امارت اسلامی یک اقتصاد متلاشی شده وبیمار را از نظام گذشته به ارث برده است' اقتصاد متلاشی شده از یک سو و توقف برنامه های امداد رسانی وتعلیق کلی پروژه های عمرانی و زیر بنایی از سوی جامعه جهانی وضعیت را دشوار نه' بل پیچیده کرد و امارت اسلامی را در یک آزمون دشوار حکومتداری قرار داد.

امارت اسلامی محکوم به آن است که با بدی های بجا مانده از نظام گذشته نه تنها مبارزه کند بل آن را اصلاح نماید و برای بهبود وعمران ها تلاش نماید.

امارت اسلامی از ناهجاری اجتماعی چون فقر وگرسنگی آگاه است ومیکوشد با برنامه ریزی های متنوع به آن پاسخ گوید' برای به زانو در آوردن مشکلات چون فقر و گرسنگی سرمایه‌گذاری در پروژه‌های توسعه یی و پشتیبانی از تولیدات داخلی را راهکار خود انتخاب کرده است' راه اندازی پروژه‌های کلان اقتصادی، حمایت از صنایع کوچک و متوسط به منظور اشتغال‌زایی و همچنین توجه به زون‌های خاص اقتصادی و احیای تجارت و ترانزیت. مسایل محوری در بحث رونق اقتصادی اند.

امارت اسلامی با راه اندازی پروژه های کلان عمرانی چون کانال قوش تیپه' آغاز کار بند پاشدان هرات' آغاز کار بند خوش آباد در فراه' امضای چندین قرار داد خرد و بزرگ استخراج معادن با شرکت های داخلی وخارجی' آغاز کار ترمیم و بازسازی شاهراه نمبریک‹ کابل- قندهار› ... نمونه های از دست بکار شدن برای ایجاد پروژه های زیر بنایی در کشور است که در کنار صد ها پروژه دیگرکوچک و نیمه کوچک اقتصادی روی دست گرفته شده است که زمینه ایجاد اشتغال و رونق اقتصادی را در پی دارد و در نهایت گرسنگی را از بین خواهد برد و فقر را هم تا حد قابل ملاحظه کاهش خواهد داد.

اگر امروز حرف از فقر و گرسنگی در افغانستان است در روی دیگر سکه نمادی از خوشبختی مردم افغانستان به چشم میخورد' افغانستان از لحاظ منابع مادی زیر زمینی' ذخایر کافی آب و زمین های حاصل خیز زراعتی یک کشور تعریف شده است' این صفات عالی برای امارت اسلامی پوشیده نیست بل فرصتی برای کار گیری برای رفاه عامه است که کار در این خصوص با ظرفیت های متفاوت آغاز شده است که نتیجه آن بازهم آسایش همگانی خواهد بود' در حالی که امریکا ومتحدان آن جمع دولت تحت الحمایه شان' در جریان بیست سال گذشته روی زیر بنا ها نه تنها کار نکردند وسرمایه گذاری صورت نگرفت بل کوشیده شد که افغانستان با داشته های وافر طبیعی همچنان گرسنه و احتیاج باقی بماند و با تاسف هنوز هم شماری از کشور ها و سازمان ها با همان دید به افغانستان نگاه میکنند و قصدا مانع ایجاد زیر بنا ها در افغانستان میشوند در حالی که امارت اسلامی در تقابل با چنین ایده و اندیشه است.

تبصره باختر

### آگاهان سیاسی:

# غرب مسبب اصلی فقر و گرسنگی فعلی در افغانستان است

آگاهان امور می‌گویند که مسبب اصلی فقر و گرسنگی فعلی در کشور نتیجه دو دهه سیاست های مداخله جویانه غربی‌ها در امور افغانستان می باشد؛ زیرا آنان در طول ۲۰ سال حضور شان در کشور، کاری زیر بنایی مهمی را برای مردم انجام ندادند.

به گزارش «آوا»، این اظهارات آگاهان امور در حالی مطرح می‌شود که به تازگی اداره هماهنگی کمک‌های بشردوستانه سازمان ملل متحد یا «اوچا» در گزارشی گفته است که بیست میلیون تن تا ماه مارچ سال ۲۰۲۳ با گرسنگی شدید در افغانستان روبه‌رو خواهند شد.

نعمت الله الکوزی، آگاه امور سیاسی در صحبت با آوا گفت که مسبب اصلی فقر و گرسنگی فعلی در کشور نتیجه دو دهه سیاست های مداخله جویانه غربی‌ها در امور افغانستان بوده است، زیرا آنان در طول ۲۰ سال حضور شان در کشور نه تنها اندک کاری زیربنایی را برای مردم انجام ندادند، بلکه بسیاری از معادن افغانستان به سرقت بردند.

الکوزی، تاکید کرد که غربی‌ها بعد از شکست شان در افغانستان آرام ننشسته اند، آنان دارای‌های مردم افغانستان را در بانک جهانی مسدود کرده اند که سبب فقر و گرسنگی بیشتر در کشور شده، چون مسدود ماندن دارای های کشور باعث کاهش داد و ستد تجارتی و محدودیت تبادله اسعار از طریق بانک‌های کشور شده است.

الکوزی، همچنین علاوه کرد که غربی‌ها با مسدود کردن دارای‌های افغانستان، مشکلات زیادی را برای شهروندان کشور و سازمان‌های کمک رسان ایجاد کرده اند، آنان در بخش انتقال پول از طریق بانک‌ها با معضلات زیادی روبه‌رو هستند.

او با بیان اینکه حکومت جمهوریت اجازه بستن قراردادهای بزرگ را در بخش معادن با کشورهای منطقه نداشت افزود: غربی‌ها زمان که در افغانستان حضور داشتند، مانع کارهای زیربنایی در کشور شدند، معادن افغانستان را بدون بستن قرارداد با حکومت جمهوریت استخراج و به بیرون از کشور انتقال میدادند.

این آگاه سیاسی ابزار داشت: غربی‌ها تلاش دارند که با مسدود کردن دارای‌های افغانستان بر امارت اسلامی فشار وارد کنند، اما این کار غربی‌ها خیانت بزرگ به حق مردم افغانستان است، زیرا پیامدهای آن متوجه اتباع کشور شده و بر مشکلات شهروندان کشور افزوده است.

در همین حال محمد قیس اکبری، یک تن از آگاهان امور اقتصادی نیز در صحبت با آوا گفت که برای غربی‌ها حقوق بشر و آزادی‌های فردی معنی ندارد؛ زیرا آنان با مسدود کردن دارای‌های افغانستان باعث تورم شدید، افزایش نرخ مواد غذایی و سایر کالا های اساسی و مشکلات بیشتری برای واردات کالا از دیگر کشورها به افغانستان شده اند.

اوخاطرنشان ساخت که امریکایی‌ها هم در زمان حضور و هم بعد از شکست شان بخاطر منافع که در کشورما داشت و دارند، اقتصاد افغانستان را سیاسی ساخته اند که این کار شان آسیب‌های فراوان را به تاجران در کشور وارد کرده است.

اکبری تاکید کرد: غربی‌ها به بهانه‌های مختلف تلاش دارند که مانع کمک برخی کشورها به افغانستان شوند، چون آنان بخاطر دنبال کردن اهداف کلان خود در منطقه می‌خواهند که افغانستان یک تهدید برای کشورهای همسایه و رقبای امریکا در آسیا باشد.

گفتنی است که امریکا بعد از سقوط نظام جمهوریت در اولین اقدام خود، پول‌های افغانستان را در بانک‌های این کشور و موسسات و بانک‌های بین‌المللی، مسدود کرد.

این درحالی است که امریکا در افغانستان ۲۰ سال حضور نظامی داشت و در همه امور حکومت داری مداخله می کرد. در این مدت نظر به گزارش‌های که بطور کلی منتشر شده است، حدود ۲۵۰ هزار اتباع کشور جان‌های خود را از دست داده اند و حدود یک میلیون تن دیگر نیز زخم برداشته اند. در عین حال بیش از ۵ میلیون نفر در داخل کشور آواره و ۳ میلیون و ۵۰۰ هزار نفر نیز دیگر به خارج از کشور پناهنده شده اند.

# د هلمند د حقابې په اړه
# د پیښېدونکې جګړې خیر ته ناست ملنګان!

خالق یار احمدزی



وروسته له هغه چې د افغان او ایراني چارواکو ترمنځ د اوبو د حقابې پر سر نانډرۍ راپورته او ایراني لوري د سیاست له پولو څو قدمه وړاندې پر افغانستان د تیري ګواښ هم وکړ؛ په تعقیب یې ، د نیمروز ولایت د کنګ ولسوالۍ په سرحدي سیمو کې د ایراني عسکرو او افغان سرحدي ځواکونو تر منځ جګړه رامنځته شوه، چې تر څو ساعتونو یې دوام وکړ او په پایله کې یې له دواړو لوریو څو تنو ته مرګ ژوبله واوښته.

دغه جګړه کې دواړو لوریو پر یوه او بل د درنو او سپکو وسلو د ویشتو ښه زړه یخ کړ او ځینې صحنې یې په ټولنیزو رسنیو کې هم لاس په لاس شوې؛ چې د انټرنشنل په نامه اسرایلي ساخت انترنتي شبکې او دوشنبې میشتو مقاومتیانو یې هم په کوریج کې پوره غوښنه ونډه واخیسته.

له جګړې وروسته سملاسي د دواړو لوریو خپاره شوي غبرګونونه متفاوت و، خو د څو ورځو په تیرېدو سره یې تعبیریزه ژبه نرېدې یوه شوه.

د افغانستان د کورنیو چارو او دفاع وزارتونو دغه جګړه باندې خواشیني ښوده، ویې ویل چې دا جګړه ایراني لوري پیل کړې او په وینا یې چې: ((اسلامي امارت د هرې ستونزې لپاره خبرې اترې یوه معقوله لاره ګڼي، منفي اقدامات او د جګړې لپاره بهانې لټول د یوه لوري په ګټه هم نه دي.))

خو د ایران د نظامي قواوو د مشر غبرګون دوه ځله خپور شو، چې له ګواښ او اخطارونو ډکې خبرې په کې نغښتې وې او د اسلامي امارت په مشرۍ حکومت ته یې ناوړه ادبیات کارولي وو؛ چې د ایراني رسنیو خبریالانو هم په دولتي پوښ کې ښې وځلولې.

دغه راز په ټولنیزو رسنیو کې ددغه هیواد یو شمېر نورو سیاسیونو هم ورته پاروونکې خبرې لاس په لاس شوې؛ خو افغان مقاماتو ورته هېڅ راز غبرګون ونه ښووده او همداسې یې پریښودې.

د څو ورځو له تیرېدو وروسته، د ایراني لوري دریځ نرمښت ته ور نږدې شو او د جګړې د پیښېدو د عامل په توګه یې وویل چې: ځواکونو یې د قاچاقبرانو پل پسې واخیست، چې وروسته د طالبانو له غبرګون سره مخ شول.

جګړه که څه هم د حقابې پر سر د ایراني ولسمشر د توندو څرګندونو پایله وه، چې خپلو سرحدي عسکرو ته یې هم جګړییزه روحیه ورکړې وه، خو د وړمې ورځې د نښتې عوامل، مختلف کېدای شي.

د چارو د یوه څارونکي په توګه، زما په آند؛ ښایي دا د ایراني لوري لخوا د افغان سرحدیانو د زور او ځواک آزمایښت و، یا د ایران دا تجاوز په سیمه کې د دوستانو او دښمنانو د موندلو یوه امتحاني څپه وه او یا هم کېدای شي چې ایران غوښتل، په دې توګه له خپل داخلي کشکمکشه د خلکو پاملرنه، له افغانستان سره د شخړې لور ته سوق کړي او یا هم ښایي نورې پټې استخباراتي موخې تر شا وې؛ چې ایران له دې څو ساعتیرې جګړې ترلاسه کول غوښتل؛ خو د افغان ځواکونو مقاومت یې، ټولې مترقبه هیلې معکوسې ثابتې کړې.

په هرحال؛ د ایران دې تجاوز ته باالمثل او خوندور ځواب وویل شو، خو په غیر مترقبه توګه یې مرتزقه افغان برېڅو بیا هم په تبلیغاتي ډګر کې د ایران لوری ونیو او په خورا ننګینو الفاظو یې د اوسني حاکم نظام پر وړاندې د ایراني شیعه ملېشو د مقاومت ننګه تر سره کړه.

بده لا دا چې د مقاومت سر لارو یې په کنایي اشعارو کې ایراني لوري ته د خپلې پخوانۍ وفادارۍ او پټو دوستیو کیسې ور په زړه کولې او هغوی یې دې ته هڅول چې که جګړې ته را ودانګي، دوی به یې هماغسې ننګه کوي، لکه پرون یې چې د امریکا په مشرۍ، د ناټو له متحدینو څخه د طالب پر وړاندې کوله.

خو ایراني لوري ځان خاموش ونیو، د دوی د نیمګړې مینې د اشعارو قافیه یې ور بشپړه نه کړه او د جګړې د بس کېدو لپاره یې هم د مذاکراتو د ترسره کیدل لوی لامل یاد کړ.

ایراني لوري که څه هم ښکاره تجاوز کړی و، خو دوی یې بیا هم په ننګه کولو د کوم شرم احساس نه کاوه او د هغوی دفاع یې خپل فرض باله.

جالبه دا وه، چې دوی سملاسي د ایراني حکومت ویاندویان هم جوړ شول، ویل یې چې ایرانیانو ځکه شاټګ وکړ، چې هسې نه د طالبانو او امریکا د ګډې لومې ښکار نه شي؛ خو دې ته یې نه کتل چې همغه امریکا چې دوی (ټامیانو /مقاومتیانو) یې حتی د موټر ټایرونه هم لکه د قبر خورده په ژبه څټل، څنګه به له خپل ابدي دښمن سره داسې یوه جوړجاړي ته زړه ښه کړي.....؟

ته به وایې چې ګواکې امارت لا هم د خوب له بړستنې وضعیت څاري او د موساد، cia او ایراني سپاه له مرموزو اړیکو او سیمه ییزو پلانونو په تغافل کې ساتل شوی دی.

امارت چې ایراني مشرانو ته د ښکنځلمارو نیوکو ځواب په دیپلوماتیکو خبرو او د بخش آباد او پاشدان بندونو په عملي پرانیستلو او کار پیلولو ورکوي؛ څنګه به خپلې ګټې د نورو د مصالحو ښکار کوي؟

اوس خو نو په ارګ کې هغه څوک هم نه دي واکمن چې په پټو او ښکاره بکسونو کې به ورته نغدې ډالریزې کاپۍ راتلې او هغوی هم نشته چې بې دانشه څیرې یې تر پایه د ارګ د منبر او محراب سالاران ټاکلي وو.

بله جالبه دا وه چې دوی د دې پرځای چې د خپل هیواد له ارزښتونو دفاع وکړي، افغان تبلیغاتي برېڅو یې ویل چې د ایراني رژیم د پایښت لپاره د افغان حکومت پر وړاندې هر ډول مقاومت ته تیار دي؛ خو که ایران یې یوازې تمویل وکړي.

له ټولو جالبه لا دا چې دوی تر پرونه د ناټو د هلیکوفترو په سیوري کې د نازلیدونکې من او سلوا په مټ چاغو شویو شغالانو، خپل ځانونه د هیواد د علیاء مصالحو، ځمکنۍ بشپړتیا او خپلواکي اخیستو اتلان بلل ؛ خو نن بیا په یوه خیالي خوب کې د ایراني اخوندانو د شملو تر سایې لاندې پر هماغه کونجاړه شخوند وهي، خو د خوب په نیمه خوا تعبیر کې یې هر وخت د خپل سر بالښتونه خوړلي وي.

# د کابل او تهران ترمنځ
# مسایل په هغه حد کې نه دي چې کړکیچ رامنځته کړي

پوله یو رسمی قانون او تړون دی باید د هغه درناوی وشي، هره سرحدی ستونزه حللاره لري د پلمو لټول د مسئلو د حل منطقي لاره نه ده. د باختراژانس مبصرلیکي: د نیمروز ولایت د کنګ ولسوالۍ په اړوند سیمو کې د اسلامي امارت او ایراني پوله ساتو سرحدي ځواکونو نښته وکړه که څه هم تراوسه معلومه نه ده چې د دې نښتې عامل څه و، خو د اسلامي امارت سرحدي ځواکونه د ایران پوله ساتي ځواکونه د دې جګړې د پیل عامل بولي. داسې خبرونه هم شته چې ایراني پوله ساتو پر پوله د نویو ښو د لګولو په لټه کې و او په ځینو سیمو کې یې د استحکاماتو د جوړولو قصد درلود چې د افغان ځواکونو له غبرګون سره مخ شول چې په پایله کې یې وسله واله نښته رامنځته شوه. که څه هم رسمي سرچینو د نښتې د لامل په باب څه نه دي ویلي، خو د سیمې د شاهدانو او اوسېدونکو څرګندونې ښيي، چې ایراني ځواکونه د یوې پېښې په رامنځته کولو سره، د افغان پوله ساتو حساسیت راوپاراوه. له بده مرغه دا باورونه د افغانانو په منځ کې ورځ تر بلې پیاوړي کېږي، له هلمند سینده د ایران د اوبو د حقابې په اړه له شورماشور وروسته د ایرانیانو پلمې هم زیاتې شوې، هیله ده چې دا څرګندونې یوازې د یوې فرضیې او ګومان په حد کې وي او واقعیت ونه لري.

دواړه ملتونه باید هوښیار و اوسي او ومني چې د استعمارګرو دسیسې دوام لري که دا دسیسې خپل ځای پیدا کړي د سیمې لپاره به ویجاړونکې وي. هر ناسنجول شوی عمل، د دواړو هېوادونو د ارزښتونو او ګټو خلاف عمل خطرناکې پایلې لري، نو لازمه ده چې زموږ هر اقدام او حرکت معقول وي او د دواړو لوروګټو ته درناوی ولري. د افغانستان اسلامي امارت د چارواکو له نظره، د افغانستان او ایران ترمنځ مسایل په دې حد کې نه دي چې د کړکېچ د رامنځته کولو سبب شي او دا ستونزې د خبرو او تفاهم له لارې حل کېدای شي. اسلامي امارت د مسائلو حل ته د تفاهم او خبرو اترو له نظره ګوري او له ایراني ورونو څخه هم همدا تمه لري.

# «ما از تشنگی جان می دهیم، ایران...

مناسب برای مشکل حق‌آبهٔ ایران دانسته می گوید که مقام‌های ایران نخست معلومات‌شان را از راه‌های قانونی تکمیل و سپس درخواست خود را با الفاظ مناسب مطرح کنند. همچنان، مقام‌های افغان بر حل این مشکل از طریق گفتگو و تفاهم تاکید کرده می‌گویند که تغییرات اقلیمی سبب کم‌آبی شده و ایران نباید این موضوع را سیاسی سازد. محمدسرور تاجیک یک تن از دهاقین منطقهٔ نادعلی شهر زرنج مرکز ولایت نیمروز به آژانس خبری پژواک گفت: «از پنج سال به این طرف نبود آب و خشک‌سالی تمام سرمایهٔ ما دهاقین را نابود کرده است.» وی گفت: «من صاحب ۳۵۰ جریب زمین هستم، پنج سال است کشت می‌کنم حاصل به دست نمی‌آورم، بر علاوه پول کارگران، تیل تراکتور، پول تخم، همه بالایم تاوان میشه، زحمت بیهوده می‌کشم.» او افزود: «در شرایطی که مردم نیمروز یک تانکر آب مصرفی را به ۵۰۰ افغانی و ۲۰ لیتر آب نوشیدنی را ۱۵ افغانی می‌خرند، جمهوری اسلامی ایران از ما حقابه می‌خواهد، ما از تشنگی می‌میریم، ایران از ما آب می‌خواهد، از کجا آب بیاریم بدهیم، در طول پنجاه سال که آب فراوان بود تمام آب به ایران می‌رفت کسی ممانعت نمی‌کرد.» محمدسرور از حکومت خواست تا از بند کجکی هلمند به مردم نیمروز آب بدهد، زیرا نیمروز در آب بند کجکی بیست درصد سهمیه دارد.

این درحالی است که مولوی امیرخان متقی سرپرست وزارت خارجهٔ افغانستان چند روز پیش در واکنش به سخنان مقام‌های ایران در مورد حق‌آبه از آب هلمند گفته بود که آب بندکمال خشک شده و آب بند کجکی هلمند نیز کاهش چشمگیر داشته‌است. عبدالروف آخندزاده یکی دیگر از زمینداران منطقهٔ سردشت مرکز این ولایت نیز می گوید که از پنج سال به این طرف به علت خشکسالی هیچ حاصلی از ۵۰۰ جریب زمین خود نگرفته است . او افزود، پارسال گندم، جو، جواری، خربوزه و تربوز کشت کرده بود، اما تاوان کرد چون تنها یک بار آبیاری شد و بدون مقدار کمی گندم حاصلی از آن برداشت نکرد. آخندزاده می‌افزاید: «بسیاری از دهاقینی که دو سال کشت کردند تاوان کردند، امسال حاضر نیستند کشت کنند، دهاقین حتی زمین ما را رها کردند، می گویند سر فلک کارگری کنیم مزد خوب به دست میاریم از این زمین هیچ حاصلی نیست، زمین حالا به خودم مانده و آب هم نیست.»

او که عضو انجمن بند کمال خان است می‌افزاید: «امسال ۵۰ مرتبه به بند رفتم، اما در کاسهٔ بند کمال‌خان آبی وجود ندارد که حتی نیمروز را آبیاری کند، چه برسد که به ایران آب برسد، اگر آب وجود داشته باشد، همسایهٔ ماست بخل نمی‌کنیم، اما حالا که آب نیست.» وی می گوید که او با دهاقین جلسه مشترک با مقام ولایت داشته تا آب بند کجکی هلمند را به طرف نیمروز رها کنند، اما مسوولان گفته اند که در بند کجکی نیز آب کم است. او طی پیامی به حکومت ایران گفت: « دولت و ملت افغانستان به پیمان سال ۱۳۵۱ متعهد است، اگر ایران آب داشته باشد ما مرزنشینان منفعت می‌بریم و برعکس ما آب داشته باشیم منفعت آن به زابل و زاهدان می‌رسد، اگر آنها خراب شوند ما هم نقص می‌کنیم، اگر زابل آب می‌داشت به ما هم می‌رسید، تقاضا می‌کنیم تا وضعیت خشک‌سالی نیمروز را دیده بعداً دعوا بالای آب داشته باشند .» امین‌الله باشندهٔ ولسوالی چخانسور این ولایت گفت که سال پار برخی باشنده‌گان چخانسور مواشی شان را از خشک‌سالی از دست دادند و به ایران آواره شدند.

به گفتهٔ او، اگر امارت اسلامی به معضل خشک‌سالی توجه نکند، نیمروز با خاک یکسان می‌شود. حکمت‌الله باشندهٔ ولسوالی کنگ ولایت نیمروز می گوید: «نیمروز گرم است، در این فصل سال قیمت آب در زرنج سه برابر می‌شود، در کنگ مردمی که چاه آب دارند، دروازه می‌زنند و قفل می اندازند تا اهالی قریه آب نگیرند زیرا چاه‌ها ظرف دو ماه خشک می‌شود.»

او افزود: «در این فصل سال امراض گوناگون در کنگ از آب‌های کثیف، چاه‌های سر باز، و آلودگی پیدا می‌شود، مردم از خاطر نبود آب از نیمروز فرار می کنند ایران از حلقوم خشکیده ما آب می‌خواهد، تاسف آور است .» در همین حال گل احمد فضلی آمر بخش حیوانی ریاست زراعت نیمروز گفت که از دو سه سال به این طرف دهاقین و زمیندارن در این ولایت به دلیل خشکسالی ضرر می‌کنند. موصوف می‌گوید: «دهاقین به امید آب بند کمال خان کشت کردند اما اول سال یک بار آب می‌آید تخم شان در زمین خشک می‌شود خصوصا مردم زرنج و ولسوالی‌های چخانسور و کنگ هیچ حاصل نگرفتند .» بنا بر معلومات او، در نیمروز ۹۰ هزار راس مواشی وجود دارد که سال گذشته در نیمروز ۵۰۰۰ مواشی تلف شدند مالداران را بسیار خساره مند کرد، آب زیر زمینی در ولسوالی چخاسنور و کنگ وجود ندارد، ساحه علفزار نیست، مالداران حدود ۳۰ هزار مواشی خود را به ولایات همجوار بردند، اگر به مشکل آب نیمروز رسیدگی نشود ۴۰ فیصد مواشی که در نیمروز مانده هم امسال می‌میرند.» فضلی می‌فزاید، نیمروز ۱۶۰ هزار هکتار زمین قابل زراعت دارد که از آن جمله امسال ۸۰ هزار هکتار کشت شده، ولی امیدواری برای حاصل وجود ندارد و در دو ولسوالی (کنگ و چخانسور) اصلا کشت صورت نگرفته است .

# پر کانونو پانګونه اقتصاد پیاوړی کوي


شاه محمود درویش

افغانستان د طبیعي زیرمو له پلوه ډېر بډای دی، چې له طبیعي زیرمو یې د ملي شتمنیو په توګه ګټه پورته شي او له غیر قانوني کیندنو او استخراجه یې مخنیوی وشي، بې له شکه د اقتصاد په وده او پرمختیا کې ښه او ګټورتمامېدای شي، چې همدې اصل ته په کتو د اسلامي امارت د مشرتابه په لارښوونه په هیواد کې د ځینو کانونو او طبیعي زېرمو د استخراج چارې پیل شوي دي، په همدې تړاو د معادن او پترولیم وزارت له قوله ویل شوي، چې د سرپل ولایت د قشقري نفت معادن څخه هره ورځ ۲۵۰ ټنه خام نفت استخراجېږي، پخوا څلورحلقې څاګانې فعاله وې او اوس درې حلقې نورې څاګانې هم فعاله شوې، نو په ورځني ډول له دغه څاګانو ۲۵۰ ټنه نفت استخراجېږي او تراوسه ۱۷ زره ټنه نفت هم تصفیه شوي دي، د اوس لپاره زموږ د استخراج کچه په ورځني ډول ۲۵۰ تنه ده چې پخوا ۲۰۰ ټنه وه ، د قشقري په ساحه کې تراوسه ۱۳۶۶۹ ټنه خام مواد تصفیه شوي ، بل لورته د صنایعو او معادن خونه وایي، په پام کې لري چې له بهرنیو شرکتونو سره یوځای د معادنو د استخراج په برخه کې پانګونې ولري او په دې برخه کې یې له ځینو شرکتونو سره یې خبرې پیل کړي دي، د معدنونو په برخه کې چې هرڅومره پانګونه ډېره شي، افغانستان به په چټک ډول خود کفاشي، ځکه نفتي توکي داخلي اړتیاوې پوره کوي.

خو په ډېرې خواشینۍ سره باید وویل شي چې د اسلامي امارت بودجه د دې جوګه نه ده چې په هراړخیزه توګه د هیواد په کانونو، طبیعي زېرمو او هم ترڅنګ یې په سترو او کوچنیو پروژو کار پیل کړي خو دغه چارې د اسلامي امارت ترڅنګ د خصوصي پانګې اچونو په مرسته هم ترسره کېدای شي، بناً دې کارته باید پانګوال راودانګي چې د ګڼو طبیعي زیرمو په راایستلو، د صنعتي فابریکو په جوړولو او بیارغاونې کار پیل کړي، چې په داسې بنسټیزو پروژو کې د کارپیل به مثبتې او ګټورې پایلې ولري، له یوې خوا به بېکارو هیوادوالو ته دکار زمینه او ښه شرایط برابرشي، له بل لوري به طبیعی زېرمو را ایستل دهیواد د اقتصاد په وده او پرمختیا کې ښې او ګټورې اغیزې ولري خوشرط دادی چې ټولې چارې یې باید په بشپړصداقت او روښتیا پرمخ لاړې شي.

د دې ټکی یادونه هم ضروري ده، که چېرې په هراړخیزه توګه کورني او بهرني پانګه وال په بېلا بېلو برخو کې پانګونې وکړي نو بې له شکه بې ګټې نه وي، ځکه افغانستان د کانونو په برخه کې ډېرښه امکانات لري، د دې تر څنګ ښه استعدادونه اوستر بشري ځواک هم لري چې باید له دغو ټولو په ښه توګه ګټه واخیستل شي چې په دې برخه کې واقعاً د اسلامي امارت او ترڅنګ یې مسوول ارګانونه دنده لري چې زیاته پاملرنه وکړي او کورني او بهرنی پانګه وال دې ته وهڅوي چې په دې برخه کې پانګونه وکړي.

د هیواد د کانونو او طبیعي زېرمو په استخراج سره ګڼ شمېر کاري بوختیاوې هم رامنځته کېږي او دهیواد ډېر ځوانان چې همدا اوس د بیکارۍ او بې روزګارۍ له امله د مهاجرت ستونزمن ژوند ته مخه کوي دوی ټولوته په هیواد کې د ننه د سالم کار او روزګار زمینه برابرېږي، نواړینه ده چې افغان پتمن ولس باید په هراړخیزه توګه له اسلامي امارت سره همکاراومرستندوې و اوسي او د کاني زېرمو د سالم استخراج، داقتصادي بنسټونو د ودې او پراختیا په برخه کې هراړخیز پلانونه په منظم ډول طرحه او په ښه توګه تطبیق کړي، چې په پایله کې د ګران هیواد د پرمختګ او قدرمنو هیوادوالو د هراړخیزې هوساینې سبب شي او دمګړۍ هیوادوال له کوموستونزو سره مخامخ دي بې له شکه چې دغه ستونزې یوازې اویوازې دهیواد د ملي اقتصاد د ودې اوپرمختګ په پایله کې سمښت موندلی شي اوبس، پردې بنسټ دا لازمي بریښي چې دهیواد د ملي اقتصاد د ودې او پرمختګ لپاره باید افغان ولس په ګډه د هراړخیزې همکارۍ له مخې لاس په کارشي.



# پښتو دې د نصاب، علم، ټکنالوژۍ او رسمیاتو ژبه شي

احمد راشد

د غبرګولي ۸ مه یا د مې ۲۹مه د پښتو ژبې نړیواله ورځ ده. دا ورځ کابو یوه لسیزه وړاندې د پښتو ژبې د لا بډاینې، پرمختګ او د دې ژبې د پرمختګ پر وړاندې د شته خنډونو د له منځه وړلو په موخه د پښتو ژبې د نړیوالې ورځې په نوم ونومول شوه. پښتو ژبه چې مخینه یې زرګونو کلونو ته رسېږي، اوس د نړۍ د ۵۰ لومړنیو ژبو په نوملړ کې ځای لري او نږدې ۸۰ میلیونه وګړي پرې خبرې کوي.

د پښتو ژبې نړیواله ورځ چې له دې وړاندې به د افغانستان په ګډون، په کوزه پښتونخوا، پاکستان، هند او د نړۍ په یوشمېر نورو هېوادونو کې د بېلابېلو غونډو، سیمینارونو او علمي پروګرامونو په جوړېدو سره نمانځل کېده، خو سږ کال په حکومتي او ولسي کچه چا د دې مهمې ورځې یادونه و نه کړه. زه هم په خپل وار د پښتو ژبې د ورځې د نمانځلو په پار د افغانستان ټولو درنو هېوادوالو ته او په ځانګړې توګه د دې سترې ژبې ویونکیو ته هغه که د نړۍ په هر ګوټ کې وي مبارکي وایم. پښتو یوازې ژبه نه، بلکې یو فرهنګ، دود او د ارزښتونو ستره تګلاره هم ده. په داسې حال کې چې د ګران هېواد ټولو ژبو ته ځانګړې درناوی لرم هغه داچې د افغانستان لرغونی تاریخ او د پښتو او دري دوه رسمي او ملي ژبې یو له بل سره دومره ژورې او نه بېلیدونکي جرړې او رېښې دومره تاریخي مخینه لري چې په هېواد کې مېشت قومونه یې یو له بل سره د ملي یووالي په تار کلک تړلي او ګران هېواد افغانستان یې یو موټی او غښتلی ساتلی دی.




پښتو ژبه چې د اریانا یوه لرغونې ژبه شمېرل کېږي، مخینه او سر یې زموږ د تاریخي لاسوندونو پر بنسټ، ویدي سرودونو ته ور رسېږي. آن د لومړني ګرځندوی چې له چین څخه راغلی و، د هغه په یونلیک کې هم د پښتو ژبې یادونه شوې وه چې د پکښتیانه، پکښت او د پکت له خبرو یې را اخلي. ځینې استادان لا هم د سرخ‌کوتل د کتیبې له لوستلو یا د نورو لاس ته راغلو اثارو له مخې، پښتو ژبه لرغونې ګڼي.

پښتانه د نړۍ یواځینی ملت دی،چې په لویه کچه په قبایلي ډلو وېشل شوي د پښتنو د وګړو د ټولټال شمېر اټکل څه نا څه ۴۲ میلیونه شوی، خو د پښتنو د ډېرو ټبرونو کوچیاني طبیعت د دوی د سم شمېرنې مخه نیولې او تر اوسه پورې د دوی سرشمېرنه نه ده مالومه شوې،خو بل لامل یې له ۱۹۷۹ نه را پدېخوا په لوی افغانستان کې د سیمې رسمي سرشمېرنې نشتوالی دی.

د پښتنو تاریخ ډېر لرغونی دی او د دوی په هکله د لا نورو څېړنو اړتیا لیدل کېږي. د پښتنو سیمې د عیسی (ع) نه دوه زره کاله وړاندې، د بېلابېلو خلکو لخوا نیول شوي او د بېلابېلو مهاجرتونو په سبب اغېزمنې شوي. ایرانیانو، هندوآریانیانو، مادیانو، پارسیانو او د ماوریانو سره سره نورو ولسونو لکه سکیاتیانو، کوشانیانو، هیفتالیانو، مصریانو، عربانو، ترکانو او مغولانو هر یوه په خپل وار په دغه سیمو حکومتونه کړي. د پښتنو د آر په هکله په دواړو ډلو کې هم په خپلو پښتنو کې او هم په غیر پښتنو تاریخ پوهانو کې مخالف اندونه شته، چې ځینې یې نوي او ځینې نور یې لرغوني او افسانوي بڼه لري.

مورنۍ ژبه هغه ژبه ده، چې یو انسان یې د لومړي ځل لپاره په خپل کور کې زده کوي. زیاتره خلک په دې باور دي چې مورنۍ ژبه هغې ژبې ته ویل کېږي، په کومه ژبه چې د یوه انسان مور خبرې کوي، خو داسې نه ده، که څه هم د مورنۍ ژبې نوم د مور له کلمې اخیستل شوی، خو هدف یې هغه ژبه ده، کومه چې یو انسان د لمړي ځل لپاره زده کوي. مثلاً: یو ښځه له واده کولو وروسته داسې کورنۍ ته ځي، چېرته چې د دوی په ژبه خبرې نه کېږي، نو کله چې نوی ماشوم نړۍ ته راځي، د هغه مورنۍ ژبه د همدې سیمې ژبه ده، چېرته چې پیدا شوی. د مورنۍ ژبې له اړه خان عبدالغفار خان ویلي: کوم قوم ته چې خپله ژبه سپکه شي، قوم سپک شي او کوم قوم نه چې ژبه ورکه شي، قوم ورک شي.

د شلمې پېړۍ په پیل کې ګومان کېده په نړۍ کې به له زرو ډېرې ژبې نه وي، خو د وخت په تېرېدو، د څېړنو او د معلوماتو په زیاتېدو خلک پوه شول چې په نړۍ کې په زرګونو ژبې دي چې ځینې یې لږ او ځینې یې ډېر ویونکي لري.د پښتو ژبې ودې او پرمختګ لپاره لېوالتیا، د ادبیاتو مینه والو هلې ځلې او د خواله رسنیو رول پر خپل ځای، خو تر څو چې ژبه د نصاب برخه نه شي، په محکمه او بازار کې اهیمت و نه مومي ودې او پرمختګ ته یې ډېره هیله مندي نه شته.نو ویلای شو، چې ژبه د یوه قوم کلتور او عنعنات ساتي او نویو نسلونو ته یې لېږي. هغه کورنۍ کې چې نوی پیدا شوی ماشومان یې له خپلې مورنۍ ژبې لرې پاتي کېږي، هغه د خپل قوم له ټولو ارزښتونو او عنعناتو نا خبره وي. هغه کسان چې په خپله مورنۍ ژبه زده کړې کوي، هغوی کولای شي په ښه توګه څېړنې وکړي او یا په کارونو کې په اسانۍ سره نوښت وکړي. ډاکټر جیم کیومنز ویلي: هغه کوچنیان چې خپله مورنۍ ژبه یې ښه زده وي، په ښوونځي کې د نورو ژبو د زده کولو ښه استعداد لري. نېلسن منډېلا وایي، که له یو چا سره په داسې ژبه خبرې وشي چې هغه پرې پوه شي، نو ستا خبره به د هغه مغزو ته ولوېږي، خو که له هغه سره د هغه په مورنۍ ژبه خبرې وکړې نو دا به د هغه زړه ته ولوېږي. په نړۍ کې په زیاته کچه ژبې شتون لري، ښایي ونه شمېرل شي، خو ویلای شو چې له سیمه ییزو لهجو پرته په نړۍ کې تر ۶۰۰۰ زیاتې ژبې شتون لري، چې تر ۲۰۰ زیاتې ژبې یې تر یو میلیون زیات ویونکي لري. زیاتره ژبپوهان اندېښنه لري، چې تر راتلونکو سلو کلونو پورې به د نړۍ تر نیمایي زیاتې ژبې له منځه لاړې شي. دوی وایي، د یوې ژبې د له منځه تللو خطر هغه وخت زیات دی، چې د ویونکو شمېر یې تر سل زره کم وي، دا په داسې حال کې ده، چې په نړۍ کې تر ۳۰۰۰ زیاتې ژبې تر سل زره کم ویونکي لري.

دا چې د ژبو له منځه تلل کومه نوې خبره نه ده، بلکې د تاریخ په اوږدو کې زیات شمېر ژبې له منځه تللي دي. له ژبې سره یې ټول اثار هم له منځه ځي، چې یوه لویه ضایعه بلل کېږي. په یویشتمه پېړۍ کې د یوې ژبې ارزښت هغه وخت زیاتېږي، چې په علمي لحاظ غني شي. کله چې یوه ژبه زیاتې لیکنې او علمي سرچینې ولري نو د نورو ژبو ویونکي هم د هغې زده کړې ته اړ کېږي. خو په کومه ژبه چې معلومات کم پیدا کېږي، نو ویونکي یې اړ کېږي چې نورې ژبې زده کړي او دا د دې لامل کېږي، چې ژبه ورو ورو ضعیفه شي او په پای کې له منځه لاړه شي. نو د پښتو ژبې د غني کولو لپاره تر ټولو غوره لاره د دې ژبې په معلوماتي لحاظ غني کول دي.اسلامي امارت دې په ښوونیز او تحصیلي نصاب کې پر پښتو ژبه لا ډېر علمي اثار ور زیات کړي. همدارنګه، هغه پښتانه چې په بېلابېلو برخو کې یې زده‌کړې کړي، د خپل مسلک اړوند څېړنیزې مقالې، کتابونه او اثار دې په پښتو ژبه ولیکي. په دولتي کچه هم په‌کار ده چې رسمي چارې په پښتو ژبه شي. د دې ژبې د پیاوړتیا لپاره د طرحې جوړول، د هغې د املا معیاري کول او واحدول د دولتونو ستر مسئولیت دی. موږ ټول باید په دې توګه پښتو ژبه غني کړو.

# شعر و ادب

## غزل

**حضرت بیدل (رح)**

کتاب عافیتی قیل و قال باب تو نیست
ببند لب که جز این نقطه انتخاب تو نیست
برون دل نتوان یافت هرچه خواهی یافت
کدام گنج که در خانهٔ خراب تو نیست
سپند مجمر تسلیم قانع ازلی‌ست
بس است نال اگر اشک با کباب تو نیست
اگر تو لب نگشایی ز انفعال طلب
جهان به غیر دعاهای مستجاب تو نیست
نفس چو صبح، غنیمت شمار موهومی‌ست
زمان اگر همه پیری‌ست جز شتاب تو نیست
به داغ منت احسانم ای فلک منشان
دماغ سوخته را تاب ماهتاب تو نیست
چه آسمان چه زمین انفعال روبوشی ست
تو گر پری شوی این شیشه‌ها حجاب تو نیست
به جلوهٔ قو ازل تا بد جهان عدم اسب
در آفتاب قیامت هم آفتاب تو نیست
کجا بریم خیالات پوچ علم و عمل
به عالمی که تویی هیچ چیز باب تو نیست
ز دل معاملهٔ عین و غیر پرسید
زبان گزید که جز شبههٔ حساب تو نیست
گل بهار و خزان ظهور یکرنگ است
تو هم ببال که جز باد در حباب تو نیست
مقیم خانهٔ زینی چو شمع آگه باش
که پا به هر چه نهی جز سرت رکاب تو نیست
سلامت سر مژگان خویش باید خواست
به زیر سایهٔ دیوار غیر خواب تو نیست
در آتشیم ز بی‌انفعالی‌ات بیدل
که می گدازی وچون شیشه نم در آب تو نیست

## حکایت

**حضرت عطار (رح)**

عاشقی از فرط عشق آشفته بود
بر سر خاکی بزاری خفته بود
رفت معشوقش به بالینش فراز
دید او را خفته وز خود رفته باز
رقعه‌ای بنبشت چست و لایق او
بست آن بر آستین عاشق او
عاشقش از خواب چون بیدار شد
رقعه برخواند و برو خون بار شد
این نوشته بود کای مرد خموش
خیز اگر بازارگانی سیم گوش
ور تو مرد زاهدی، شب زنده باش
بندگی کن تا به روز و بنده باش
ور تو هستی مرد عاشق، شرم‌دار
خواب را با دیدهٔ عاشق چه کار
مرد عاشق باد پیماید به روز
شب همه مهتاب پیماید ز سوز
چون تو نه اینی نه آن، ای بی‌فروغ
می‌مزن در عشق ما لاف دروغ
گر بخفتد عاشقی جز در کفن
عاشقش گویم، ولی بر خویشتن
چون تو در عشق از سر جهل آمدی
خواب خوش بادت که نااهل آمدی

# د اخلاص سورت فضایل

**شپږمه برخه / خالد مشعل**

۴۲ ـــ عن عقبة رضي الله عنه: أن النبی صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال له: ألا اعلمک سوراً ما أنزل فی التوراة ولا فی الزبور ولا فی الانجیل ولا فی الفرقان مثلها؟ قلت: بلی، قال: (قل هوَ ) و (قل اعوذ ).
(الاتقان فی علوم القرآن، ص: ۸۰۵)

ژباړه: له عبقه رضي الله عنه نه روایت دی، وایي نبي علیه السلام وویل: داسې سورتونه در ونه ښیم؟ چې د دغو سورتونو په څېر نه په تورات، نه په زبور، نه انجیل او نه په فرقان کې نازل شوي وي، راوي وایي ما وویل: ولې نه. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (قل هوَ ) او (قل اعوذ ) دي.

۴۳ ـــ عن عقبة بن عامر قال: لقیت رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فابتدأته فأخذتُ بیده، فقلت: یا رسول الله، بم نجاة المومن؟ قال: یا عقبة احرُس لسانک ولیسَعَک بیتُک، وابکِ علی خطیئتک قال: ثم لقینی رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فابتدأنی فأخذی بیدی، فقال: یا عقبة بن عامَر، ألا أعلمک خیر ثلاث سُورَ أنزلت فی التوراة، والأنجیل، والزبور، والقرآن العظیم؟ قال: قلت: بلی، جعلنی الله فداک. قال: فاقرأنی: (قُلْ هُوَ ) (و قُلْ اَعُوْذُ) (و قُلْ اَعُوْذُ ) ثم قال: یا عقبة، لا تَنسَهُن ولا تُبت لیلة حتی تقرأهن. قال: فما نسیتهن منذ قال: (لا تنسهن)، وما بت لیلة قط حتی أقرأهن. قال عقبة، ثم لقیت رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فابتدأته، فأخذت بیده، فقلت: یا رسول الله، أخبرنی بفواضل الأعمال. فقال: (یا عقبة، صِل من قطعک، وأعطِ من حَرَمَک، وأعرض عمن ظلمک).
(تفسیر القرآن العظیم: ۹ / ۵۳۷، المسند (۴ / ۱۴۸)

ژباړه: له حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه نه روایت دی، هغه وایي، چې: ما له نبي علیه السلام سره ولېدل. له مخامخ کېدو سره سم مې د نبي علیه السلام لاس مبارک ونیو، ومې ویل: اې رسول الله صلی الله علیه وسلم، د مؤمن (مسلمان) خلاصون یا نجات په څه کې دی؟ نبي علیه السلام وویل: ژبه دې وساتي او له ګناهونو پښېماني. حضرت عقبه رضي الله عنه وایي: له دې وروسته نبي علیه السلام راسره مخامخ شو، لومړی یې زما لاس ونیولو، بیا یې وفرمایل: اې عقبه د عامر زویه! آیا زه تا له دریو داسې سورتونو خبر نکړم کوم چې په تورات، زبور، انجیل او قرآن کریم کې نازل شوي. عقبه وایي: ما وویل: ولې نه، له تا زار شم. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ته (قُلْ هُوَ)، (قُلْ اَعُوْذُ) او (قُلْ اَعُوْذُ ) ولوستل او ویې ویل: اې عقبه! دا مه هېروه، او داسې شپه مه تېروه چې دا درې سورتونه دې نه وي پکې لوستلي. حضرت عقبه رضي الله عنه وایي: له کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ته دا ویلي: دا (درې سورتونه) مه هېروه، ما نه دي هېر کړي او نه مې داسې شپه تېره کړې چې دا درې سورتونه مې نه وي پکې لوستلي. حضرت عقبه رضي الله عنه وایي: بیا زه له نبي علیه السلام سره مخامخ شوم. لومړی مې د نبي علیه السلام لاس ونیولو بیا مې وویل: اې د الله رسوله! ما ته غوره (افضل) عملونه راوښیه؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: اې عقبه رضي الله عنه! چا چې خپلوي درسره پرې کړه ته یې ورسره پاله، څوک دې چې محروموي هغوی ته ورکړه کوه. او څوک چې دربانديې ظلم کوي له هغه تېرېږه.

۴۴ ـــ عن انس بن مالک رضي الله عنه قال: قال رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: من قرأ: اذا زلزلت، عدلت له بنصف القرآن، و من قرأ: قل یایها عدلت له بربع القرآن ومن قرأء: قل هوَ عُدلت له بثلث القرآن.
(اخرجه الترمذی، کتاب فضائل القرآن: ۲ / ۱۳۲، والبیهقی فی شعب الایمان: ۲ / ۴۷۹)

ژباړه: له حضرت انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی، وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: چا چې (اذا زلزلت) ولوست نو د ده لپاره د قرآن نیمایي هومره اجر او ثواب دی او چا چې (قل یا ایها) تلاوت کړ، هغه ته د قرآن د څلورمې حصې برابر ثواب او اجر رسیږي. او چا چې (قل هوَ) قرأت کړ؛ نو د ده لپاره د قرآن د دریمې برخې هومره ثواب دی.

۴۵ ـــ عن ابی هریرة رضي الله عنه أن رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قرأ فی رکعة الفجر: قل یایها و قل هوَ .
(اخرجه مسلم، کتاب صلاة المسافرین و قصرها، باب استحباب رکعتی سنة الفجر: ۱ / ۵۰۲)

ژباړه: له حضرت ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی، وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم د سهار په دوو رکعتونو کې (قل یا ایها) او (قل هوَ) تلاوت کړل.

۴۶ ـــ عن عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما قال: کان رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یقرأ فی المغرب (قل یایها، وقل هوَ ).
(اخرجه ابن ماجه، باب القرأة فی صلاة المغرب: ۱ / ۲۷۲)

ژباړه: له حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روایت دی، وایي: چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم به د ماښام لمانځه کې (قل یا ایها او (قل هوَ تلاوت کول.

۴۷ ـــ عن أبی بن کعب رضي الله عنه قال: قال: رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: من قرأء (قل هوَ ) فکأنما قرأ ثلث القرآن.
(أخرجه أبو عبید فی فضائله، باب فضل (قل هو) ص: ۱۴۴، واحمد فی (المسند: ۵ / ۱۸۵)، سنن النسائی الکبری، برقم: ۱۰۵۲۱)

ژباړه: له حضرت ابي کعب رضي الله عنه نه روایت دی، وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: چا چې (قل هوَ) سورت تلاوت کړ، لکه دریمه برخه قرآن یې چې لوستلی وي!

۴۸ ـــ عن ابن عمر رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من دخل یوم الجمعة المسجد فصل اربع رکعات یقرأ فی کل رکعة (بفاتحة الکتاب و قل هوَ ) خمسین مرة فذلک مائتا مرة فی اربع رکعات، لم یمت حتی یری منزله فی الجنة أو یری له.
(کتاب الشعب تفسیر القرطبی: ۸ / ۷۳۳۹)

ژباړه: له حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی، وایي: چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې د جُمعې په ورځ جومات ته ننوت، د څلور رکعتونو نفلو نیت یې وتړلو او په هر رکعت کې یې پنځوس ۵۰ ځلې د فاتحې سورت (الحمدلله) او ورپسې (قل هوَ) تلاوت کړ، چې دا په څلورو رکعتونو کې دوه سوه (۲۰۰) وارې شو؛ نو دی به تر هغې ونه مري، تر څو په جنت کې خپل مکان (ماڼۍ) ونه ویني او یا ور ښکاره نه کړل شي.

۴۹ ـــ عن جابر بن عبدالله رضي الله عنهما فی حدیث طویل قال فیه: ثم نفذ الی مقام ابراهیم علیه السلام فقرأ: (واتخذوا من مَّقَام فجعل المقام بینه و بین البیت: کان یقرأ فی الرکعتین (قل هوَ ، وقل یا ایها الکافرون... الخ).
(أخرجه مسلم، کتاب الحج، باب حجة النبی صلی الله علیه وسلم: ۲ / ۸۸۶)

